مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله ارینزی

۲۰۲۶/۰۳/۲۸

# افغانستان

## طبیعی، بشري، سیاسي، اقتصادي او تاریخي جغرافیه

## دوه‌ویشتمه‌برخه

۹- بامیان

بامیان د افغانستان په مرکزي برخه کي پروت او ډېر بدایه او لرغونی تاریخ لري. په اوستا کي بامیکان او په چیني منابعو کي فان یانګ او فان یان راغلی، چي ورو- ورو دا نوم په بامیان اوښتی دی. بامیان د کوشانیانو په وخت کي د وربښمو د لارې او د منځنی اسیا د لوی مدنیت له اصلی مراکزو څخه شمېرل کېده. د ضحاک ښار، دره اژدر/اژدها، د غلغلې ښار، غار یخي، بند امیر، دره فولادي، چهل دختران، چهل برج، سلسال(m۵۳) او شاهمامه (m۳۵ ) بوتان، د بودائیانو د استوګني مغارې، د هغه وخت د مدنیت، عباداتو او د سپلانیتوب د مینی نامتو یادګارونه دي.

پر «سلسال» او «شاهمامه» باندي لومړني ګذارونه چنګیزخان کړي دي. هغه مهال چي له سلطان محمد خوارزمشاه سره په جګړه کي، د چنګیز لمسی تموچن (د چغتایي زوی) په بامیان کي ووژل شو، چنګیزخان په بدل کي ډېر خلک ووژل او د بوتانو لویېږي مجسمې یې وراني کړې. له بده مرغه چي دا مجسمې څو ځلې نورې هم له تاړاکونو سره مخامخ شوی او درانه زیانونه لیدلي دي.

بامیان نژدې ۱۸۰۰۰km مربع پراخوالی او ۴۲۰۰۰۰ نفوس( ۲۰۲۳) لری. د سمندر له سطحې څخه په منځنی توګه ۲۵۵۰m لوړ دی؛ خو د شاه فولادي څوکه یې ۵۱۴۵m لوړه ده. د بامیان شمال ته سرپل او سمنګان، جنوب ته دایکندي، ختیځ ته بغلان او پروان، جنوب ته وردک او لوېدیځ ته غور ولایتونه پراته دي. د بامیانو په شمال برخو کي شاه فولادي او جنوب ته د بابا غرونو دنګ ولاړ دي، چي د دې ولایت د اوبو سرچینې جوړوي.

بامیان نژدې شپږ میاشتې ساړه ژمی لری. کلني ورښت په ټیټو برخو کي ۲۰۰mm - ۳۰۰ او په لوړو سیمو کي ۶۰۰mm - ۸۰۰ دی. تودوخه په اوړي کي ۲۵C0 – ۳۰ او په ژمي کي منفي ۱۵-۲۰ ته هم ښکته کېږي وي.

| شمېر | د ولایت نوم | اداري درجه | مساحت په$km^2$ | ختیځ طو ل البلد | شمالي عرض البلد | د سمندر له سطحې څخه لوړوالی په m | نفوس |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 26 | بامیان | دریيمه | 18029.2 | 66-17 | 35-29 | 2200 | 540614 |



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څېر و لولئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | باميان | مرکز | 2178 | 67-49 | 34-49 | 2500 | 103909 |
| 2 | شيبر | و-3 | 1076 | 68-09 | 34-53 | 2600 | 36344 |
| 3 | کهمرد | و -٣ | 1640 | 67-38 | 35-19 | 1750 | ٣٣٤٣٢ |
| 4 | سيغان | و-3 | 1652 | 67-40 | 35-11 | 2050 | ٢٩٥٣٨ |
| 5 | يکاولنګ | و -١ | 6628 | 66-58 | 34-44 | 2600 | ٤٥٠٠٣ |
| 6 | پنجاب | و-3 | 1526 | 67-01 | 34-23 | 2700 | ٨٣٩٨٢ |
| 7 | ورس (ورث) | و -١ | 2845 | 66-54 | 34-13 | 2500 | ١٣٣٣٤١ |

يکه ولنګ دوم: ۳۲۷۲۴ لنډمهاله ولسوالی ده



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ